
# دمُفتي نَقي علي خان

# درې کرامات

**08-July-2021**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د مُفتـي نَقـي علي خان درې كرامات

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې كله جُمات ته داخل شئ، نو ياد ساتئ او د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې په جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. ياد ساتئ! جُمات كښې د خوراك څښاك، اُوده كيدلو يا پيشمنې او روژه ماتي كولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د مخكښې نه مو د اعتكاف نِيَّت كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: فرض حج كوئ! بيشكه د دې اجر په 20 غزوو كښې د شريك كيدلو نه زيات دے او په ما باندې يو ځل دُرُود شريف لوستل د دې برابر دي.[(1)]

كون جانے دُرُود كى قيمت | ہے عجب دُرِّ شاہوار دُرُود

[1]...مسند الفردوس، باب:الحاء، جلد:2، صفحه:130، حديث:2662۔

ہم کو پڑھنا خدا نصیب کرے | دَم بدم اور بار بار دُرُود[1]

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ (يعني) رښتينے نِيَّت د ټولو نه افضل عمل دے.[2]

اے عاشقانِ رَسُول! ياد ساتئ! په نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي. د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو:

نِيَّت اوکړئ چې، ❀ نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ❀ چې څومره کيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې کښينم ❀ که قلم کاغذ لرئ نو د اهمو نڪاتو نوټ کولو نِيَّت هم اوکړئ.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د ذُوالْقَعْدَةِ الْحَرام په 29 يا 30 تاريخ د اعلٰى حضرت، اِمامِ اهلِ سُنَّت، شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د والدِ محترم رَئِيْسُ الْمُتَكَلِّمِيْن مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه عُرس مُبارَك كيږي، په دې مُناسَبَت سره به نن مونږه د حضرت عَلَّامه مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د سيرت مُتَعَلِّق د اوريدلو سعادت حاصلوو. اللّٰه پاك دِ مونږ ټول د ولئ كامِل، عالِم باعمل مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د فيض نه مالا

---

[1]...کافی کی نعت، صفحہ:38۔

[2]...جامع صغیر،صفحہ:81،حدیث:1284۔

مال کړي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

# د عُلمائے کرامو يو څو فضائل

**اے عاشقانِ رسول!** حضرت عَلّامه مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د اوچتې مرتبے والا باعمله عالِمِ دِين وو، د هغوئي د سيرت بيان اوريدلو نه مخکښې راځئ چې د قرآن و حديث په رنړا کښې د علمائے کرامو يو څو فضائل واورو چې په زړونو کښې مو د علمائے کرامو اَهَمِّيَّت زيات شي او د علمِ دِين زده کولو شوق مو پيدا شي.

**اللّٰه** پاك په قرآنِ کريم کښې ارشاد فرمائي:

شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَۙ وَ الْمَلٰٓىٕكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ قَآىٕمًۢا بِالْقِسْطِؕ

(پارہ3،سورۃآلِ عمران:18)

مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: او الله ګواهي ورکړي ده چې د هغه نه سِوا هيڅ څوك د عبادت لائق نشته او فرښتو او عالِمَانو [هم ګواهي ورکړي ده] په انصاف باندې قائم اوسيدلو سره.

حضرت عَلّامه مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې آيت لاندې فرمائي: د دې آيت نه د علم (او علماؤ) درې فضيلتونه ثابِت شو: (1) **اللّٰه** پاك په دې آيت کښې د خپل ځان او د فرښتو د ذِکر سره د علماؤ ذِکر اوفرمائيلو، دا داسې اوچته مرتبه ده چې د دې څه حد نشته، (2) په دې آيت کښې **اللّٰه** پاك فرښتے د توحيد ګواه جوړې کړې او د فرښتو په شان علماء ئې هم د توحيد ګواهان جوړ کړل او د هغوئي ګواهي ئې د خپل رښتيني خدائے کيدلو دليل جوړ کړو، (3) معلومه شوه چې رښتيني باعمله، عاشقانِ رسول علماء د **اللّٰه** پاك د وحدانِيَّت ګواه دي.

په سيپارۀ 28، سورۀ مُجادَله، آيت نمبر11 کښې **اللّٰه** پاك د عُلماء په شان کښې ارشاد فرمائی:

يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ وَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ؕ
(پارہ28،سورۃالمجادلہ:11)

مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان: **الله** پاك په تاسو كښې د اِيمان والؤ او چا ته چې علم وركړے شوے دے د هغوئې درجے اوچتوي.

**سُبْحٰنَ الله**! معلومه شوه څنګه چې اِيمان د درجاتو د اوچتوالي سبب دے، دغه شان د علم په ذريعه هم درجات اوچتيږي.

☆د تِرمِذی شريف روايت دے، د **الله** پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِيْ عَلٰى اَدْنَاكُم يعني د عالِم په عابِد باندې داسې فضيلت دے، څنګه چې زما فضيلت ستاسو په ادنٰی کس باندې دے. [1] ☆په يو حديثِ پاك کښې ارشاد فرمائي: په ورځ د قيامت به **الله** پاك علماء ته اوفرمائي: بيشکه ما خپل عِلم او حِلم تاسو ته د دې د پاره درکړے وو چې تاسو اوبخښم.[2] ☆ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: په ورځ د قيامت به **الله** پاك عبادت کوونکو او جهاد کوونکو ته اوفرمائي: جَنَّت ته ځئ! عُلماء به عرض اوکړي:يا اِلٰهي! دوئې زمونږ په ښودلو عبادت کړے وو او په جهاد کښې شريك شوي وو. حکم به اوشي: اے د علماؤ ډلې! تاسو زما په نِزد د فرښتو په شان ئې، شفاعت اوکړئ څکه چې ستاسو شفاعت به قبول کړے شي. پس علمائے کرام به شفاعت کوي، بيا به جَنَّت ته ځي.[3] ☆په يو حديثِ پاك کښې ارشاد دے: کوم کس چې نورو ته زده کولو د پاره د علم

[1]...ترمذی، کتاب:العلم، باب:ماجاء فی فضل الفقه علی العبادۃ، صفحه:632، حدیث:2685۔

[2]...معجم کبیر، ثعلبه بن حَکَمُ اللیثی، جلد:2، صفحه:354، حدیث:1364۔

[3]...احیاءالعلوم، علم سکھانے کی فضیلت، جلد:1، صفحہ:60۔

يو باب زده کړي، هغه ته به د 70 صِدّيقينو اجر ورکړے شي. (1) ☆منقول دي: **اللّٰه** پاك حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلام ته اوفرمائيل: اے ابراهيم! زه علم والا يم او علم والا دوست ساتم. (2)

**سُبْحٰنَ اللّٰه! اے عاشقانِ رسول!** اندازه اولګوئ! علمائے کرام څومره اوچت شان والا دي، **اللّٰه** پاك دِ مونږه هم د عاشقانِ رسول علمائے کرامو د فيض نه مالا مال کړې، راځئ چې د **اللّٰه** پاك د يو کامِل ولـي، د ډيرې اوچتې مرتبے والا، باعمل عالِمِ دِين، تاجُ العُلَماء، **رَئِيْسُ الْمُتَکَلِّمِیْن**، حضرت عَلّامه مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ذِکرِ خير اوکړو:

## د مُفتــي نقــي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مختصر تَعَارُف

☆د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه والدِ **محترم** علامه مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د جُمادَی الاَخِيره يا رَجَبُ المُرَجَّب په مياشت کښې په 1246 هجري کښې په بريلي شريف کښې پيدا شوے وو،(3) ☆د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه والدِ مُحتَرَم يعني د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نيکه مولانا رضا علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل وخت جَيِّد عالِمِ دِين، باکرامته وَلـي، مُتَّقـي، پرهيزګار او عبادت ګزاره وو، حضرت عَلّامه مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ټول عُلوم د خپل والِدِ صاحِب نه زده کړي وو. (4) ☆حضرت عَلّامه مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ماشوم والي نه مُتَّقـي، پرهيزګاره وو، د الله په فضل و کرم سره د

[1]...الترغيب والترهيب، کتاب:العلم، صفحه:45، حديث:19۔

[2]...جامع بيان العلم، جلد:1، صفحه:209، حديث:236۔

[3]...فضائلِ دُعا، صفحه:36۔

[4]...حياتِ اعلیٰ حضرت، جلد1، صفحه:39۔

شروع نه د هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه طبیعت نیکۍ طرف ته مائل وو، بیا د مولانا رضا علي خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه تعلیم و تربیت هغه [عِلمي او روحاني طور] نور هم روښانه کړو☆ په 1294هجرۍ کښې مولانا نقــي علي خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه مارهره شریف ته حاضر شو او د شاه آلِ رسول مارهروي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په لاس ئې بیعت اوکړو، شاه آلِ رسول رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه چې د مولانا نقــي علي خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نیکي، تقوٰی و پرهیزګاري، اعلٰی اخلاق و کردار او اوچت شان اولیدلو نو هغه وخت ئې ورته په قادري، سُهروردي، چشتــي او نقشبندي څلورو وارو سلسلو کښې اجازت و خلافت ورکړو او د سَنَدِ حدیث اجازت ئې هم ورعطا کړو. دغه وخت اعلٰی حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه هم د خپل والدِ محترم مولانا نقــي علي خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه سره حاضر وو، هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه هم هغه وخت د شاه آلِ رسول مارهروي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په لاس بیعت اوکړو او هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ته هم د خپل پیر و مُرشِد له طرفه د دې څلورو وارو سلسلو اجازت و خلافت ورکړے شو. (1) ☆ عَلّامه مولانا نَقِــي علي خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د علمِ دِین زده کولو او نورو ته تعلیم ورکولو ډیر شوقین وو☆خلقو ته به ئې د علمِ دین شوق ورکولو ☆خپل ټول وخت به ئې په دِین لوستلو او نورو ته تعلیم ورکولو او نور دیني کارونو کښې تیرولو ☆د عَلّامه مولانا نَقِــي علي خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په خدمت کښې به عام طور صاحِبِ علم خلق موجود اوسیدل، ☆عَلّامه مولانا نَقِــي علي خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه به چې کله خبرې کولې نو داسې به ښکاریدله لکه د علم سمندر چې چپے وهي، ☆په خپلو خبرو کښې به ئې د قرآني آیتونو او احادیثِ پاك حوالے په کثرت سره ورکولې، ☆حضرت عَلّامه مولانا نَقِــي علي خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د ډیرې پوهې

---

[1]...فضائلِ دُعا، صفحه:40۔

مالك وو، ډېر عقلمند او هوښيار وو، ☆رُعب او دبدبه ئې لرله[1]☆د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د فرمان خُلاصه ده: **اللّٰه** پاك حضرت عَلَّامه مولانا نَقِــي علي خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه ته د غور و فكر صلاحيت، پوهه او داسېِ پخه رائے عطا كړي وه چېِ په دغه علاقو (يعنې هِند) كښې چا ته نه وه ميلاو. ☆د هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فراستِ صادقه [يعني عقلمندئ او پوهې] دا حالت وو چېِ د كومې مُعامَلے په باره كښې به ئې څه اوفرمائيل هم هغه به كيدل،☆هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه ډېر بَهادُر، سخي، او اوچت هِمَّت والا وو، ☆صدقه و خيرات به ئې په پټه ډېر زيات كولو،☆كوم رزق چې به ميلاو شو، په هغې به ئې قناعت كولو، د ډېرې لالچ به ئې نه كولو، ☆اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه نور فرمائي: د حضرت عَلَّامه مولانا نَقِــي علي خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د اعلیٰ فضائلو حقيقتًا حال صرف هغه كس ته معلوم چا چې د هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه صُحبت حاصل كړے وو چې

ایں نہ بحریست کہ دَر کُوزَہ تحریر آید

يعني دا هغه سمندر نه دے، چې د ليك په كوزه كښې بند كړے شي. [2]

## د مُفتــي نقــي علي خان القابات

☆اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په فتاوٰی رضويه شريف كښې د خپل والِدِ ماجِد مولانا نَقِــي علي خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه القابات، فضائل و اوصاف بيانوي، فرمائي: **اَلْاِمَامُ الْهُمَّامُ** (يعني اوچت هِمَّت والا اِمام) **وَالْفَاضِلُ الطَّمْطَامُ** (يعني زبردست فاضل) **وَالْبَحْرُ الطَّامُ** (چپے وهونكے سَمُندر) **وَالْبَدْرُ التَّامُ** (د څوارلسمې سپوږمئ) **حَامِيُ السُّنَنِ** (د سُنَّتو محافظ) **مَاحِيُ**

---

[1] ...مولانا نقی علی خاں بریلوی، صفحه:30تا32ملتقطاً۔

[2] ...حیاتِ اعلیٰ حضرت، جلد:1، صفحه:40۔

**اَلْفِتَنِ** (فتنے ختمولو والا) **ذُوْ تَصَانِیْفٍ رَائِقَةٍ** (ښکلي کتابونه ليکونکے) **بَقِیَّةُ السَّلَفِ** (د بُزُرګانو نښه) **حُجَّةُ الْخَلَفِ** (د وروستو خلقو د پاره دليل) **نَاصِحُ الْاُمَّةِ** (اُمّت ته نصيحت کوونکے) **کَاشِفُ الْغُمَّةِ** (مشکلات حل کولو والا) **حَامِیُ حِمَی الرِّسَالَةِ عَنْ کَیْدِ اَھْلِ الضَّلَالَةِ** (د ګمراهانو مکر او دوکه ماتوونکے او په ناموسِ رِسالَت باندې پهره ورکولو والا) **مولانا مولوی محمد نقی علی خاں قادری برکاتی آلِ رسول** الله پاك دِ هغوئي نه راضي شي. **(1)**

قُدرت کا شاہکار ہیں، حضرت نقی علی　　پَروَردَہ سرکار ہیں حضرت نقی علی
سیرت میں باوقار ہیں، حضرت نقی علی　　صُورت میں رُعب دار ہیں، حضرت نقی علی
مفتی ہیں باکمال تو عاشق بھی بے مثال　　آقا کے جاں نثار ہیں حضرت نقی علی
باطِل پہ قہر، حق کی ہیں تلوارِ بے نیام　　سُنَّت کے پیروکار ہیں، حضرت نقی علی
والدِ رضا کے اور ہیں اِبنِ رضا علی　　سُنّی کے تاجدار ہیں حضرت نقی علی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مُفتي نَقِي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عشقِ رسول

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د حضرت عَلّامه مولانا نَقِي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ټولو او خاصو صفاتو اصل د هغوئي **عشقِ رسول** دے.

بعضې ماهرينِ رضويات (يعني کوم عُلَماء چې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په سيرت و کردار، د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په تعليماتو وغيره باندې تحقيق کوي، په هغې باندې مقالے ليکي او په دې بنياد د P.H.D ډګرې حاصلوي، د هغوئي) وينا ده چې ☆اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عشق و محبت اِمام دے، ☆د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عشقِ رسول مِثال نه ميلاويږي،

1 ...فتاوٰی رضويه، جلد:28، صفحه:495تا496۔

☆اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ټول ژوند په عشقِ رسول كښېٖ تير كړے دے، ☆ټول ژوند ئېٖ د مدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعتونه ليكلي دي، ☆خپل ټول ژوند ئېٖ د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په عِزَّت و ناموس باندېٖ پهره وركولو كښېٖ تير كړے دے، ☆د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عشقِ رسول به څه وائے چې په پاك و هند كښېٖ د عشقِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كومه شمع روښانه ده هغه د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په وجه روښانه ده خو سوال دا دے چېٖ اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته د عشقِ رسول دا لوئے دولت څنګه نصيب شوے وو؟ په دې باندېٖ چې تحقيق اوشو نو تحقيق كوونكو اووئيل: مونږ په دې نتيجه اورسيدلو چې بيشكه اعلٰی حضرت، اِمامِ اَهلِ سُنَّت، شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته د عشقِ رسول دا لوئے دولت **الله** پاك عطا كړے دے خو چې ظاهري اسبابو ته اوكورئ نو داعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه والِدِ او اُستاذ مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير اوچته مرتبه لرونكے عاشِقِ رسول وو. لِهٰذا دا وئيلے شئ چې داعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عشقِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كوم چې يو جهان فيض ياب كړے دے، دا عشقِ رسول چپے وهونكے سمُندر د مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پاك زړه په ذريعه د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زړه ته كوز شوے دے. **(1)**

جان ہے عشقِ مصطفےٰ، روز فُزوں کرے خُدا　　|　　جس کو ہو دَرد کا مزہ، نازِ دَوا اُٹھائے کیوں **(2)**

**وضاحت**: عشقِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ ځان دے، الله دِ اوكړي چې دا عشق چرته كم نه شي الله د، دا نور زيات كړي ځكه چې چا ته د عشق درد خوند وركوي، هغه د دې درد علاج نه كوي.

---

1 …فيضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:64بتغير قليل۔

2 …حدائقِ بخشش، صفحه:94۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د عاشِقِ رسول سَفَرِ مدينه (حکايت)

د 1295 هجرئ خبره ده، د شَوَّال مياشت وه، د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه والِدِ محترم مولانا نقـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سخت بيمار شو، ظاهري بدن ئې کمزورے شوے وو، په دې حالت کښې يوه ورځ هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه آرام کولو، ظاهري سترګې ئې پټې وې خو قِسمَت ئې بيداره وو، او د زړه سترګې ئې غړيدلې وې، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پرې کرم اوفرمائيلو او د خپل رښتيني عاشق په خوب کښې ئې تشريف راوړلو، سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل رښتيني عاشق ته حکم اوفرمائيلو چې مدينے ته راشه....!! بس بيا څه وو، د مولانا نقـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سترګې چې اوغړويدلې نو اګرچې طبيعت ئې ناسازه وو، بدن ئې ډير کمزورے وو خو مدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حکم فرمائيلے وو، مولانا نقـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فوراً د حج او د مدينے مُنَوَّرے د حاضرئ پخه اراده اوکړه، د هغوئي دوستانو او د کور کسانو وغيره ورته ډير عرض اوکړو چې جناب! طبيعت مو ټيك نه دے، تلل راتلل درته ګران دي، که را روان کال لاړ شئ نو هُم د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په حکم به عمل اوشي خو د مولانا نقـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عشق کمال اوګورئ! اوس خو په هوائي جاز کښې سفر کيږي، د هند نه په يو څو ګنټو کښې جاز مدينے مُنَوَّرے ته رسي، په هغه وخت کښې به په سمندري جاز کښې د سمندر په لاره سفر کيدلو، مدينے مُنَوَّرے ته رسيدلو کښې به ډيرې ورځې لګيدلې [او د سمندري طوفان خطره به هم وه]، د دې ټولو حالاتو باوُجُود مولانا

نقـي علي خان رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه اوفرمائيل: چې يو ځل د مدينے طيّبے په اراده د دروازے نه بهَر قدم کيږدم نو بيا خير دے که زما رُوح په هُم هغه ساعت اوځي.[1]

**مولانا نقـي علي خان** رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه خپل صاحبزاده اعلٰی حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه او د کور يو څو کسان ځان سره کړل او د حج د پاره روان شولو، اعلٰی حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم [يو ځل بيا] په خوب کښې تشريف راوړلو او خپل رښتيني عاشِق، مولانا نَقِـي علي خان رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه ته ئې په يوه پيالئ کښې دوائي ورکړه، د هغه دوائي د څښلو په برکت ئې د مرض په سختئ کښې کمے راغلو او مولانا نقـي علي خان رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه د حج او زيارت ټول افعال د صحت مندو په شان ادا کړل، بيا په مدينه طَيِّبه کښې هم [مونږ ټولو ته] با ادبه حاضري رانصيب شوه.[2]

| | |
|---|---|
| میٹھا مدینہ دُور ہے، جانا ضرور ہے | جانا ہمیں ضرور ہے، جانا ضرور ہے |
| ہوتا ہے سخت امتحاں، الفت کی راہ میں | آتا مگر سُرور ہے، جانا ضرور ہے |
| عشاق کو تو ملتی ہے غم میں بھی راحت اور | آتا بڑا سُرور ہے، جانا ضرور ہے |
| سرکار کا مدینہ یقیناً بلا شُبہ | قلب و نظر کا نُور ہے، جانا ضرور ہے[3] |

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**اے عاشقانِ رسول!** دا وو د مولانا نَقِـي علي خان رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه د عشقِ رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کيفيت...! چې خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشريف راوړلو او حکم ئې اوفرمائيلو نو هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه پرې دومره سخت عمل اوکړو چې د خپل

1 ...فضائلِ دُعا، صفحه:40۔
2 ...فضائلِ دُعا، صفحه:41۔
3 ...وسائلِ بخشش، صفحه:486تا487ملتقطاً۔

ځان پرواه ئې اونکړه بلکه اوئې فرمائيل: چې يو ځل د مدينے طيّبے په اراده د دروازے نه بهَر قدم کيږدم نو بيا خير دے که زما رُوح په هُم هغه ساعت اوځي. يعنې د خپل خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په حکم باندې عمل کولو د پاره چې څه زما په اختيار کښې دي هغه به ضرور کووم، بيا د **الله** پاك رحمت او د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم بيشميره دے، که **الله** پاك او د هغه حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوغواړي نو مدينے ته به اورسم، کنې زما له طرفه خو به په حکم عمل شوے وي.

آنے دو یا ڈبو دو، اب تو تمہاری جانِب | کشتی تمہیں پہ چھوڑی، لنگر اُٹھا دیئے ہیں(1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! دا حقيقي عِشقِ رسول دے...! اوس خو صرف د عشقِ رسول اوچتې دعوے پاتې دي، مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته چې په خوب کښې حکم اوشو نو فوراً تيار شولو خو زمونږه حال دا دے چې هٰغه احکام کوم چې د الله پاک محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپل ظاهري ژوند کښې زمونږه غلامانو د پاره ارشاد فرمائيلي دي مونږه په هغې باندې هم عمل کولو کښې ناکام يُو، ❁ د يو څو قدمه په فاصله باندې جمات وي، قالين پکښې خور وي، پکي او بعضو جماتونو کښې خو اے. سي هم لګيدلے وي، ټول سهوليات موجود وي. صحت مند هم يُو، لاس او ښپې مو هم سلامت دي او د دې باوُجود د جَمعې د لمَانځه پابندي نه کوو، ❁ افسوس! ډير مسلمانان داسې دي چې د هغوئي نه لمُونځونه هم قضا کيږي، ❁ مونږ ته د خپلو خپلوانو سره د نيك سلوك کولو حکم راکړے شوے دے خو يو شمير دے چې په معمولي خبره باندې خپلولي ماته کړي، ❁ صاحبِ نِصاب ته د شرطونو پورا

1 ...حدائقِ بخشش، صفحه:102۔

کیدلو په صورت کښې د زکوٰۃ ادا کولو حکم دے خو یو شمیر خلق داسې دي چې **مَعَاذَ الله** زکوٰۃ پورا نه ادا کوي، مونږ ته د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د روژو نیولو حکم دے خو ځومره خلق دي چې په معمولي وجه روژه نه نیسي. ۞ مونږه د غِیبَت، **چُغلئ**، دروغو، وعده خلافئ وغیره نه منع کړے شوي یُو خو نن مُعاشره په دې کښې اخته ده،۞ ډیر ناپوهه خلق داسې دي چې هغوئي دا ګڼړي چې اوس د رښتیاؤ زمانه نه ده، اوس خو صرف په دروغو وئیلو ژوند تیریدے شي، اَلْاَمَان وَالْحَفِیْظ!

۞ مونږه د مسلمانانو زړونو ته تکلیف ورکولو نه منع کړے شوي یو، خو افسوس! زمونږ په مُعاشره کښې فساد، ردې بدې، جنګ جګړې، یو بل وژل عام دي، ۞ مونږ ته د حُسنِ اخلاق حکم دے خو مونږه په بد اخلاقئ کښې اخته یو، مونږ ته د ایماندارئ حکم راکړے شوے دے خو په معاشره کښې دو نمبري [یعني بے ایماني، ټګي او دوکه] عامه ده، غرض دا چې زمونږ خوږ آقا مکي مدَني مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپل ظاهري ژوند کښې مونږ ته کوم ارشادات فرمائیلي دي، مونږه په هُغه احکامو پورا پورا عمل نه کوو، د دې باوُجود دعوٰی دا لرو چې مونږه ډیر لوئ عاشِقانِ رسول یُو.

**اے عاشقانِ رسول!** حقیقي عاشِقِ رسول خو مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه وو چې هغوئي ته په خوب کښې حکم اوشو نو بغیر د څه تاویل نه ئې په هغې عمل اوکړو، دا ئې اونه وئیل چې طبیعت مې خراب دے، د ګرځیدلو همَّت نه لرم، تللے نه شم، څه خیر دے راروان کال له به په حکم عمل اوکړم... نه، نه، بلکه اوئې فرمائیل چې بس د خوږ نبـي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په حکم د عمل کولو په نِیَّت قدم بهَر کیږدم نو بیا مې که روح اوځي نو هیڅ پرواه نه ده.

**اللّٰه** پاك دِ مونږ ته هم د مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په برکت د حقيقي عاشِقِ رسول جوړيدلو سعادت را نصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دلته دا خبره هم ياده ساتئ چې د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشريف راوړل په حقيقت کښې تشريف راوړل دي ځکه چې شيطان د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مِثَل نه شي جوړيدے. په حديثِ پاك کښې دي: **مَنْ رَاٰنِيْ فِي الْمَنَامِ فَقَدْ رَاٰنِيْ فَاِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَتَمَثَّلُ بِيْ** چا چې زه په خوب کښې اوليدم، هغه هم زه اوليدم ځکه چې شيطان زما په مِثَل نه شي جوړيدے.

دا هم ياد لرئ چې خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې څه ارشاد اوفرمائي هغه بالکل حق، حق او حق دي، البته د خوب په حالت کښې زمونږ حَوَّاس کمزوري وي، په دې وجه په يقين سره نه شو وئيلےچې حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې څه اُوفرمائيل هغه خوب ليدونکي ټکي په ټکي صحيح اوريدلي وي، يقيناً په خوب کښې د اوريدلو او په هغې پوهيدلو کښې د خطا اِمکان موجود دے، لِهٰذا په خوب کښې ورکړې شوي حکم باندې عمل کولو نه مخکښې د شريعت حکم ته کتل ضروري دي، که د خوب خبره د شريعت مُخالِف نه وي نو بيشکه په هغې عمل کولے شي خو بيا هم په خوب کښې ميلاويدونکي حکم باندې عمل کول شرعاً واجِب نه دي.

يو کس په خوب کښې اوليدل چې حُضُورِ اقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (مَعَاذَ الله) هغه ته د شرابو څښلو حکم کوي، دا مُعامَله د اِمام جَعفَر صَادِق په خدمت کښې پيش شوه، هغوئي اوفرمائيل: رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د شراب څښلو نه منع کړے ئې، ته په اوريدلو کښې تيروتے ئې. (1)

1 ...فتاوی رضویه، جلد:5، صفحه:100ماخوذاً۔

| | |
|---|---|
| مرے تم خواب میں آؤ مرے گھر روشنی ہو گی | مری قسمت جگا جاؤ عنایت یہ بڑی ہو گی[1] |

## د اته آيتونو تفسير

**اے عاشقانِ رسول!** راځئ چې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د والِدِ **محترم** حضرت عَلَّامه، مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عِشقِ رسول يو بل جهلك اوګورو!

په قرآنِ کريم کښې د اتؤ آيتونو يو سورت "**اَلَمْ نَشْرَح**" دے، په دې سورت کښې د نبـي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارَك سِيرَت او د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شان و عظَمَت بيان دے. ډير مشهور آيت دے:

| | |
|---|---|
| وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴿۴﴾ (پارہ30،سورۃالم نشرح:4) | **مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان:** او مونږه ستا د پاره ستا ذِکر اوچت کړو. |

دا آيتِ کريمه هم د سورة "**اَلَمْ نَشْرَح**" دے. حضرت عَلَّامه، مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې سورة مبارَکه تفسير ليکلے دے او **ما شَآءَالله** شان و کمال ئې اوکوړئ چې د قرآنِ کريم د 8 **مختصرو** آيتونو دا تفسير د غټ سائز په 445 صفحو باندې مشتمل دے او که دا د موجوده دور د تقاضو مطابق چاپ کړے شي نو کيدے شي چې د دې صفحے 1000 ته اورسي. د حضرت عَلَّامه، مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې مبارك تفسير عربي نوم "**اَلْكَلَامُ الْاَوْضَحُ فِي تَفْسِيْرِ اَلَمْ نَشْرَحْ**" دے او اردو نوم ئې "**انوارِ جمالِ مصطفٰے**" دے.

---

1 ...وسائل بخشش، صفحه:391۔

دا بے مثاله تفسير چې اولولئ نو د مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د علمي شان و عظمت معلوميدو سره سره د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عشقِ رسول جهلك هم واضحه ښکاري، په سورهٔ "اَلَمۡ نَشۡرَحۡ" کښې د شانِ رسالَت بيان دے، بيا مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې د دې سورت په کوم کمال ادب سره او د عشق و محبت نه ډك انداز کښې تفسير بيان کړے دے، څنګه په کمال انداز کښې ئې چې د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوصاف او کمالات بيان کړي دي، د هغې مثال ميلاويدل مشکل دي.

عام طور څوك چې كتاب ليكي، هغه د كتاب په شروع کښې د الله پاك حَمۡد او د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې دُرُودِ پاك عرض كوي، مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم د دې نه د خپل کتاب شروع کړي ده خو قربان شم! چې د تفسير په صفحه: 13 کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِكرِ پاك راغلو، نو بيا څه وو....! د يو رښتيني عاشِقِ رسول مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه قلم په وجد کښې راغلو، په زړه کښې ئې يادِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، دِماغو کښې ئې خيالِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، سر ئې د ادب نه ښکته شو، داسې معلوميده چې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جلوه مبارَکه په سترګو وِيني او مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تَصَوُّر کښې ډوب دے، د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم القابات ليکل ئې شروع کړل، قلم مسلسل ليکل کول، ليکل کول ليکل کول او الفاظ ترتيب کيدل، د عِلم سمُندر چپے وهي او د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعريف و ستائنه مسلسل روانه ده، تر دې چې مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 358 القابات اوليکل، بيا ئې اوفرمائيل:

محمد شاہدِ دیں، جانِ ایماں | محمد رحمتِ حق، لُطفِ یزداں

يعنې مُحَمَّد د دِين ګواه، د اِيمان ځان، د الله پاك لُطف او د هغه رحمت دے.

| | |
|---|---|
| بهارِ ہشت جنّت رنگ و بُوئش | بہشتِ نہ فلک خاکِ زکوئش |

د جنت ټول سپرلي د خوږ نبـي د رنګ او خوشبو مبارکې نه جوړ دي، او دا اسمان د خوږ نبـي د کوڅے د خاورو صدقه ده.

د دې ځايه پورې مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په اردو او فارسۍ کښې د مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 358 اوصاف اوليکل خو د يو رښتيني عاشقِ رسول زړه وو، د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دومره شان ذِکر کولو ئې شوق پوره نه شو، بيا ئې په عربۍ کښې د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوصاف ليکل شروع کړل، بيا هغه کيفيت، بيا هغه حال، قلم ليکل شروع کړل، بيا الفاظ ترتيب کيدل شروع شو او مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مسلسل د خپل خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوصاف ليکل، ليکل، ليکل تر دې چې 213 اوصاف ئې اوليکل، يعني دا ټول ئې د خوږ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 571 اوصاف اوليکل چې د غټ سائز په ووه صفحو باندې مشتمل دي او اوئې فرمائيل:

| | |
|---|---|
| يَا عَاشِقِيْنَ تَوَلَّهُوْا فِيْ وَجْهِهٖ | هٰذَا هُوَ الْحُسْنُ الْجَمِيْلُ الْمُفْرَد |
| لَمْ يَاْتِ فِيْ اَوْلَادِ اٰدَمَ مِثْلُهٗ | فِيْمَا مَضٰى هٰذَا حَدِيْث مُسْنَد |
| صَلُّوْا عَلَيْهِ بَكُوْرَةً وَّ عَشِيَّةً | اَلْفَ الصَّلٰوةِ مَعَ السَّلَامِ وَزِيْدُوْا |

**د عربي اشعارو ترجمه:** اے عاشقانِ مصطفٰی! د خوږ نبـي مُحَمَّدِ عَرَبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په جلوو کښې ورك شئ او ديوانه شئ! خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه حَسِين و جميل دے چې د هغوئي په شان په اولادِ آدم کښې بل نه دے راغلے، دا خبره په حديثِ پاك کښې بيان شوي ده، پس سحر ماښام په خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په زرګاؤ دُرُود

و سلام ليږئ...! (1)

تیرے عشق نے بخشی ہے یہ سوغات مسلسل | تیرا ذِکر ہمیشہ، تیری بات مسلسل

ستا عشق راکړي ده دا تحفه مسلسل | ستا ذِکر هميشه، ستا خبره ده مسلسل

**سُبْحٰنَ الله! اے عاشقانِ رسول!** دا دے عشقِ رسول چې کله د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر پاك راشي نو عاشقان خوشحاله شي، په ډير ادب سره، د شريعت په دائره کښې د ښو نه ښه الفاظ راغونډوي او د مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکرِ خير کوي، نه ئې زړه سترے کيږي، نه ئې په دِماغو کښې څه بل خيال راځي، نه ئې ژبه سترې کيږي، نه ئې ژبه اودريږي، بس په سترګو کښې اوښکې وي، زړه ئې د خوشحالئ نه ټوپونه وهي او د مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر جاري وي.

نعت پڑھتا رہوں، نعت سنتا رہوں، آنکھ پُر نم رہے، دِل مچلتا رہے
اُن کی یادوں میں ہر دَم میں کھویا رہوں، کاش! سینہ محبت میں جلتا رہے

**الله** پاك دِ مونږ ته په کثرت سره د مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذِکر کولو توفيق را عطا کړي. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د مُفتـي نَقِـي علي خان درې کرامات

**اے عاشقانِ رسول!** حضرت عَلّامه مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ولـئ کامِل وو، د هغوئي نه ډير کرامتونه ظاهر شوي دي، راځئ چې د هغوئي درې کرامات د اوريدلو سعادت حاصل کړو:

---

1 ...انوارِ جمالِ مصطفٰے، صفحه:13تا18ملتقطاً۔

## (1) قحط ختم شو (حکایت)

یو ځل په بریلي شریف کښې قحط راغلو، بارانونه نه کیدل، فصلونه تباه شو، د څاروو د پاره ګیا نه میلاویدله، ګراني زیاته شوه، خلق پریشانه شو، مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مرجعِ خلائق وو [یعني خلقو به په خپلو پریشانو کښې هغوئي ته رجوع کوله]، یوه ورځ په بریلي شریف کښې خلق په ګنړ شمیر کښې د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چې تاسو دُعا اوکړئ چې **الله** پاك باران اوکړي او د قحط د تباهئ نه خلاص شو، مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اُمَّت د غمخوارئ په وجه فوراً اوفرمائیل: ټول زما سره لاړ شئ.

د دې حکم په اوریدلو ټول خلق هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره روان شو، مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به سړك ته پیاده ډیر کم وتلو، نن چې کله هغوئی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پیاده په سړك روان وو نو د ښار خلقو په حیرانتیا سره هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته کتل، د خلقو ګنړ شمیر هم ورسره دے، په لاره کښې به خلقو تپوس کولو: څه مُعامَله ده؟ جواب به میلاو شو: حضرت مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د باران دُعا له روان دے. چې خلقو به دا واوریدل نو خپل کارونه به ئې پریښودل او هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره به روان شو، په کوم ځائے به چې تیریدلو، خلق به ورسره یو ځائے کیدل، په یو مقام کښې چې یو غیرمُسلمَه هغوئی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خلقو د ګنړې سره اولیدلو نو **مَعَاذَ الله!** په ټوقه کښې ئې اووئیل: مولانا! تر څو پورې چې باران نه وي شوے، بیرته مه راځئ. مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هغه د دې ګستاخانه جملے هیڅ جواب ورنکړو او مخکښې تیر شو، آخر هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عیدګاه ته اورسیدل، دغسې نورو خلقو ته هُم چې معلومه شوه چې مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د باران دُعا غوښتلو د پاره عیدګاه ته روان دے نو ډیر خلق د مخکښې نه عیدګاه ته رارسیدلي وو. په ګنړشمیر کښې خلق راجمع شو، مولانا

نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د اِستِسقاء لمُونځ ادا کړو، د هغې نه پس ئې چې ځنګه د دُعا د پاره لاس اوچت کړل نو ناڅاپه په آسمان وریځې خورې شوے، لا د دُعا نه فارغ شوي هُم نه وو چې باران شروع شو او دومره ډېر باران اوشو چې د خلقو کورونو ته تلل مشکل شو.

بَرَستا نہیں دیکھ کر اَبْرِ رحمت | بَدوں پر بھی برسادے بَرسانے والے (1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (2) روژه مه پرېږدئ

د مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د وفات کیدو نه پس خبره ده، یو ځل د **رَجَبُ الْمُرَجَّب** په میاشت کښې مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د خپل شهزاده اعلٰی حضرت، اِمامِ اَهلِ سُنَّت مولاناشاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه په خوب کښې تشریف راوړو، او ورته ئې اُوفرمائیل: په دې رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې به ته سخت بیمارېږې، خو روژه مه پرېږده.

اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: هم داسې اوشو، رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې زه سخت بیمار شوم، ډاکټرانو راته اووئیل: روژه مه نیسه خو **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! ما روژے اونیولې او د دې په برکت **الله** پاك ما ته شِفا راکړه، په حدیثِ پاك کښې ارشاد دے: **صُوْمُوا تَصِحُّوا** یعنې روژه اونیسئ صحت مند به شئ. (2)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1 …حدائقِ بخشش، صفحه:158۔
2 …ملفوظاتِ اعلٰی حضرت، صفحه:206۔

## (3) يوولس درجو ته مو را اورسولو (حكايت)

اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يوه روځ خوب اوليدلو چې د هغوئي والِدِ مُحتَرَم مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تشريف راوړو، يوه ښكلې او اوچته سورلئ هم ورسره ده، مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل شهزاده اعلٰی حضرت، امام احمد رضا خان اوچت كړو او په هغه سورلئ ئې سور كړو، او اوئې فرمائيل: 11 درجو ته خو مونږه اورسولې، مخكښې الله مالِك دے.

اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د دې 11 درجو نه مراد د سركارِ غوثِ اعظم شيخ عَبدُالقادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د غُلامئ درجےدي. (1)

## د مُفتـي نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سَفَرِ آخرت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! عالِمِ باعَمَل، ولـئ كرامت، عاشِقِ ماهِ رسالَت، حضرت عَلَّامه مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د 51 كاله او 5 مياشتو په عُمر كښې په 1297 هجرئ، 30 **ذُوالْقَعْدَةِ الحَرَام**، كښې د پنجشنبې په ورځ، د ماسپښين په وخت د دې فاني دُنيا نه رُخصَت شو، د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مزار مبارك په بريلي شريف (هِند) كښې د هغوئي د والد محترم مولانا رضاعلی خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مزار مبارك خوا ته دے.

په حديثِ پاك كښې دي: څوك چې د خيټې د مرض نه وفات شي، هغه شهيد دے. (2)

1 ...مولانا نقی علی خاں بریلوی، صفحہ:55۔

2 ...ترمذی، کتاب:الجنائز، باب:ماجاء فی الشهداء مَنْ هُمْ، صفحہ:277، حدیث:1063۔

مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم د خيټې په مرض کښې مُبتلا وو او په دې مرض کښې د دُنيا نه رُخصَت شو، د دې حديثِ پاك مطابق مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د شهادت مرتبه حاصله کړې ده.

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په کومه ورځ چې زما والِدِ ماجِد مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفات شو، په دغه ورځ هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سحر لمُونځ ادا کړے وو، د ماسپښين وخت لا پاتې وو چې وفات شو، د ځنکدن په وخت چې څومره خلق د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوا ته موجود وو، ټولو اوليدل چې د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سترګې بندې دي مسلسل سلام کوي (کيدے شي دا دې طرف ته اشاره ده چې د وفات کيدو په وخت کښې د اوليائے کرامو روحونه د استقبال د پاره را روان دي او هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هٰغه [روحونو] ته سلام کوي)،

يو څو ساه ګانې ئې پاتې وې چې خپل لاسونه ئې د اوداسه په اندامونو داسې راښکل لکه اودس چې کوي، تر دې پورې چې په اشاره ئې پوزې ته اوبه هُم واچولې.

هغوئي په خپل انداز د بےهوشئ په حالت کښې د ماسپښين لمُونځ هم ادا کړو. اعلیٰ حضرت نور فرمائي: کوم وخت چې ئې روح د بدن نه وتلو، زه ئې سر ته ولاړ ووم، په خدائے مې دِ قَسَم وي! د هغوئي د سينے مبارکې نه يو نُور اوچت شو او څنګه چې په آئينه کښې د لمَر عکس پريوځي، دغه شان ئې په مخ مبارك باندې [هغه نُور] اوځليدلو او غائب شو او د دې سره ئې رُوح مبارك د بدن نه جدا شو.

آخري کلِمَه کومه چې د مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ژبه مبارکه وه هغه لفظِ"اَلـلّٰـه" وو او آخري ليك کوم چې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپلو لاسو ليکلے وو هغه "بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم" وو.

اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د والِدِ ماجِد مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د وفات نه پس ما خپل پير و مُرشِد سَيِّد شاه آلِ رسول رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خوب كښې اوليدلو چې پير صاحب د والِدِ محترَم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مزار له تشريف راوړے دے، ما عرض اوكړو: حُضُور! دلته څنګه...!! اوئې فرمائيل: د نن نه، يا ئې اوفرمائيل: د اوس نه به مونږه هُم دلته اوسيږو. (1)

| عرش پر دھومیں مچیں وہ مومنِ صالح ملا | فرش سے ماتم اٹھے وہ طیّب و طاہر گیا(2) |
| --- | --- |

**د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.**

**اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم**

د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: د چا چې آخري كلام "لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله" وي هغه به جنت ته داخليږى. (3)

د حُضُورِ اَكرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خادم حضرت اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللهُ عَنْه نه روايت دے چې خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چې د **الله** پاك د تعظيم د پاره په ښكلي انداز كښې "**بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم**" اوليكله، **الله** پاك به هغه اوبخښي. (4)

**سُبْحٰنَ الله! اے عاشقانِ رسول!** د "**بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم**" بركتونه او د بخښنې خيرات حاصلولو د پاره كله كله په اوداسه كښې خوش خطه په كاغذ باندې د **بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم** ليكلو عادت جوړ كړئ، خو خيال ساتئ! د بےادبئ په ځائے كښې

---

1 ...فضائلِ دُعا، صفحه:41تا42۔
2 ...حدائقِ بخشش، صفحه:54۔
3 ...ابوداؤد، كتاب:الجنائز، باب:فى التلقين، صفحه:503، حديث:3116۔
4 ...تفسير در منثور، سورة فاتحه، جزء:1، جلد:1، صفحه:27۔

ئې هیڅ کله مه لیکئ، په دیوالونو باندې آیتونه او مقدس کلمات لیکلو نه ځان ساتئ ځکه چې وروڼو د هغې د سیاهئ ذرے په زمکه رالوېږي.

او چې کله مو خپلوانو کښې څوک وفات شي نو د هغه په کفن باندې په خالي ګوته د سیاهئ نه بغیر **بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم** لیکل پکار دي.

مشهور **مُفسّرِ قرآن،** مفتی احمد یار خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: په تفسیرِ عزیزي کښې لیك دي: یو وَلِـیُّ الله د مرګ په وخت کښې وَصِیَّت کړے وو چې زما په کفن کښې به **بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم** لیکلې کیږدئ، خلقو ترینه د دې د وجهې تپوس اوکړو نو اوئې فرمائیل: د قیامت په ورځ به دا زما سره لیکلے ثبوت وي، د دې په ذریعه به زه د **الله** پاك په بارګاه کښې د رحمت درخواست کووم. (1) دغه شان د فِقه حَنَفي مشهور کتاب "دُرِّ مُختار" کښې دي: یو کس د مرګ نه مخکښې وَصِیَّت اوکړو چې زما د مرګ نه پس زما په سینه او تندي باندې "**بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم**" اولیکئ، هم داسې اوکړے شو، بیا چا په خوب کښې اولیدلو، د حال تپوس ئې ترینه اوکړو: هغه اووئیل: چې کله زه په قبر کښې کیښودے شوم، د عذاب فرښتے راغلې، چې کله ئې زما په تندي باندې **بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم** اولیدله نو فرښتو اووئیل: ته د عذاب نه بچ شوې.(2)

ملے گا دونوں عالَم کا خزانہ پڑھ لو بِسۡمِ الله | خدا چاہے تو ہو جنّت ٹھکانہ پڑھ لو بِسۡمِ الله

**صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د **بِسۡمِ الله** شریف لیکلو سره سره د لوستلو هم عادت جوړول پکار دي چې د حضرت عبدُ الله بِن **مَسۡعُود** رَضِیَ اللہُ عَنۡہ نه روایت دے،

---

1 ...تفسیر نعیمی، پارہ:1، جلد:1، صفحہ:54۔

2 ...ردالمحتار علی الدر المختار، کتاب:الصلاۃ، مطلب:فیما یکتب علی کفن المیت، جلد:3، صفحہ:186۔

خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: څوك چې "**بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم**" اولولي، **اللّٰه** پاك به د هر حرف په بدله كښې د هغه په اعمال نامه كښې څلور زره نيكۍ اوليكي، څلو رزره ګناهونه به ئې مُعاف كړي او څلور زره درجے به ئې اوچتې كړي. [1] د حضرت علـي رَضِیَ اللّٰه عَنْه نه روايت دے: يو كس ډيره ښائسته "**بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم**" اولوستله نو د هغه بخښنه اوشوه. [2]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بِسْمِ اللّٰه شريف د نورو بركتونو او فضائلو معلومات حاصلولو د پاره د شيخِ طريقت اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِرى دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مايه ناز كتاب "فيضانِ سُنَّت" جلد اوَّل نه د "فيضانِ بِسمِ اللّٰه " باب اولولئ.

ملے گا دونوں عالم کا خزانہ پڑھ لو بِسْمِ اللّٰه | خدا چاہے تو ہو جنّت ٹھکانہ پڑھ لو بِسْمِ اللّٰه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دولسو ديني كارونو كښې يو ديني كار "هفته واره مدني مذاكره"

اے **عاشقانِ رسول**! د دُنيا او آخرت بهتري حاصلولو، د اوليائے كرامو فيض حاصلولو، د نيكو جذبه رابيدارولو، په خپل زړه كښې د عشقِ رسول جذبه زياتولو او نيك لمُونځ ګزاره جوړيدلو د پاره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول كښې شامل شئ او د ذِيلي حلقے په 12 ديني كارونو كښې په اخلاص سره خپل كردار ادا كړئ او د ډيرو ثوابونو حقدار جوړ شئ. په دې 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار هفته وار "**مدني مذاكره**" هم ده.

1 ...فردوس الاخبار، فصل: فضل قراءة القرآن، جلد:4، صفحه:26، حديث:5573۔

2 ...شعب الايمان، باب: تعظيم القرآن، جلد:2، صفحه:546، حديث:2667۔

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د دورِ حاضر عظيم علمي و روحاني شخصيت، شيخِ طريقت، رهبَرِ شريعت، اَمِيرِ اَهلِسُنَّت، حضرت علامه مولانا ابوبلال محمد الياس عطار قادري رضوي دامَتۡ بَرَكَاتُهمُ الۡعالِيه هره هفته د اتوار په شپه په مدني چينل باندې براهِ راست (Live) مدني مذاكره فرمائي، د ټولې دُنيا عاشقانِ رسول د ديني او دُنياوي مشكلاتو د حل د پاره د هغوئي په خدمت كښې سوالونه كوي او هغوئي د علم و حكمت نه ډك جوابونه وركوي. تاسو هم هره هفته بے ناغه په "**مدني مذاكره**" كښې شريك كيږئ. اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ بخپله به د دې ديني كار ډير بركتونه اووينئ.

## ماشومان هم لمُونځ گزاره جوړ شو

د تحصيل تله گنگ (ضلع چكوال، صوبه پنجاب، پاكستان) يو اسلامي ورور وينا ده چې د توبه كولو نه مخكښې هغه د معاشرے بدكرداره انسان وو. سگريټ، چرس، شراب څه به چې ميلاويدل څښل به ئې. د هغه په زړه كښې خواهش وو چې نيك لمُونځ گزاره جوړ شم خو عمل طرف ته راتللو كښې به ورته نفس و شيطان هر ځل ركاوټ جوړولو. يو ځل ئې په رَمَضَانُ الْمُبَارَك كښې هِمَّت اوكړو، روژے نيول ئې شروع كړې، هره شپه ورته په مدني چينل باندې "مَدَني مُذاكره" كتل هم نصيب شو، د اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِرى دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَهۡ د حكمت نه ډكو خبرو د هغه په زړه باندې داسې اثر اوكړو چې د هغه په ژوند كښې مدني انقلاب راغے، هغه د گناهونو نه رښتيني توبه اوكړه، گيره ئې پريښوده، پينځه وخته لمُونځونه ئې په جمات كښې د جَمعې سره ادا كول شروع كړل، د هغه د لمُونځ ادا

کولو په وجه د هغه د 12 کالو ځوئ او د 10 کالو لور هم لمُونځ ادا کول شروع کړو. ځوئ به ورسره جمات ته د جَمعې لمَانځه له تللو. (1)

## د کلِمَه او دُعا (Kalma &Dua) ايپ تَعارُف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي آئی ټي ډيپارټمنټ (I.T Department)يو ښکلے شاندار موبائل ايپلي کيشن په نوم د " **کلِمَه او دُعا** (Kalma &Dua) "جاري کړے دے. د دې ايپلي کيشن په ذريعه په ډير اسان انداز د ماشومانو تربيت کيدے شي ❁ په دې ايپلي کيشن کښې د ماشومانو د پاره شپږ کلمے د آواز په صورت کښې د لفظ د اداکولو او ترجمے سره، ❁ د ورځې 16 مختلفې دُعاګانې مثلاً د اوبو ښښلو دُعا، د طعام خوړلو نه مخکښې او وروسته دُعا، د پئيو ښښلو دُعا، د اوده کيدلو دُعا وغيره ټکي په ټکي ادائيګي او ترجمے سره ❁ او په مختلفو موضوعاتو باندې سُنتونه او آداب مثلا د طعام خوړلو سُنتونه او آداب، د سلام کولو سُنتونه او آداب، د اوبو ښښلو سُنتونه او آداب وغيره. تاسو دا ايپلي کيشن (Application) په خپل موبائل کښې انستال کړئ، او پورا فائده ترينه واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّی اللہ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره

---

1 ...فيضانِ مدنی مذاکره، صفحه:72۔

مَحَبَّت اوكړو هغه به جنّت كښې زما سره وي."[1]

سنَّت کے مطابق میں ہر اِک کام کروں کاش! | تُو پیکرِ سنَّت مجھے اللہ بنادے

كاش چې هر كار زه كووم مطابق د سُنَّتو | اے الله ته ما جوړ كړې نمونه د سُنَّتو

## نرمي كول سُنَّت دي

**دوه فرامينِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: (1) بيشكه **الله** پاك نرمي كولو والا دے او نرمي خوښوي. [2] (2) نرمي چې په كوم څيز كښې وي هغه ښائسته كوي. [3]

**اے عاشقانِ رسول!** نرمي كول زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږ خوږ سُنَّت دے بلكه نرمي خو د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه مبارك صِفَت دے چې **الله** پاك په خپل كلام قرآنِ مجيد كښې د دې ذِكر كړے دے، ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ لِنْتَ لَهُمْ ۚ<br>(پارہ4، سورۃآلِ عمران:159) | مفهوم ترجمه كنزُ العِرفان: نو اے حبيبه! د الله څومره غټه مهرباني ده چې تاسو د دوئي د پاره نرم زړه والا ئې. |

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ❁ زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير نرم زړه والا وو، ❁ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به رټل نه كول ❁ د خپل ځان د پاره به ئې غُصَّه نه كوله، ❁ په ماشومانو به ئې شفقت كولو ❁ د صحابهٔ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان سره به ئې نرمي كوله، په حديثِ پاك كښې دي: يو اعرابي (د عربو د كلي يو بےتعليمه كس) مسجدِ نَبَوي ته حاضر شو (ښكاره خبره ده چې هغه د كلي اوسيدونكے وو، د جمات د آدابو ورته علم نه

---

1...ابنِ عساكر ج٩ ص٣٤٣

2...ابن ماجه، كتاب:الادب، باب:الرفق، صفحه:594، حديث:3688۔

3...ابو داؤد، كتاب:الادب، باب:في الرفق، صفحه:756، حديث:4808۔

وو، لِهٰذا هغه) په جمات کښې په ولاړه واړه بول کول شروع کړل، صحابهٔ کرامو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوان هغه ته اووئيل: مه کوه! مه کوه! په دې باندې خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرام عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوان منع کړل. چې کله اَعرابي فارغه شو نو رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه را اُوبللو او (په نرمئ سره ئې) ورته د جمات اداب زده کړل او صحابهٔ کرامو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوان ته ئې حکم اوکړو چې دغه ځائے په اوبو بهيولو پاک کړئ. (1)

**الله** پاك دِ مونږ ته هم د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بَرَکت د نرمئ کولو، د نرمې لهجے ساتلو او په طبيعت کښې د نرمئ پيدا کولو توفيق را عطا کړې، او الله پاک دِ مونږه د بے ځايه غُصّے نه، او رټلو وغيره نه اوساتي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې خوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ

1 ...مسلم، کتاب:الطهارة، باب:وجوب غسل البول، صفحه:123، حديث:284۔

مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل

---

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

2...القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرۡضٰی لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللہُ عَنۡهُم حیران شو چې دا خوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنۡزِلۡهُ الۡمَقۡعَدَ الۡمُقَرَّبَ عِنۡدَكَ یَوۡمَ الۡقِیَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: خوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهۡلُهٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡهُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

2... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

3... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلَّی اللہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فی كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵